# د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې لخوا (۱۷) مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

چهارشنبه ۱۴۰۴/۷/۲ - ۱۵:۲۰




د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د پریکړې له مخې (۱۷) کسانو ته د نشه‌يي تابلیتو (ذیکپ او تابلیت کا)، الکولي مشروباتو او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو، په ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له اوو میاشتو څخه تر درې کالو او شپږو میاشتو پر تنفیذي بند او له ۱۵ څخه تر ۳۵ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو.

یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه.